

لنډه کیسه

# ملک

لیکوال: واجد منګل

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملک

**لیکوال: واجد « منګل »**

**ترتیب: افغان کتابتون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

د کړکۍ له شیشې څخه د لمر وړانګو د ښځې ژېړ مخ لا ژېړ کړی وو، په بدن کې یې د وینې څرک نه مالومېده، سیروم ور ته راځوړند وو، هرو څو ثانیو کې یې څاڅکي څاڅکي وینه اخیسته.

ور سره ناست دولس کلن ماشوم، د ښځې اوږې ته خپل لاس ور وغځاوه، د ښځې ګوتې وخوځېدې، ماشوم وژړل، له کوچنیو سترګو یې غټې اوښکې تویې شوې. په غریو کې یې له خولې د «ادې» لفظ را ووت.

سړی ور پورته شو، ماشوم یې له مټه ونیو، شاته یې کش کړ.

ماشوم ژړل.

سړی وویل:

- پرېږده چې مرداره شي.

د ښځې له سترګو خړه پرده اوچته شوه، ویې غړولې، سیکه نه وه ور پاتې، بېرته یې بندې کړې...

سړي سوړ اسویلی وکړ، په سپینه ږیره یې لاس تېر کړ، له مېزه یې سپینه خولۍ ور واخیسته او پاڅېد.

د کوټې ور وټکېد، کس را ننوت، ډاکټر وو، سپینه چپنه یې په تن وه.

سړی بېرته په خپل ځای کې کېناست.

ډاکټر د ښځې مخې ته څو دقیقې ولاړ وو، د ښځې نفس او فشار یې ولید. ښځې د یوې میاشتې راهسې د کم خــوني ناروغی لرله. دا ځل روغـــتون ته د هغې راتګ یواځې کم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوني نه وه، د سر ضربه هم ورسره ملګرې وه، تندی يې پرې (څيرې) وو.

وروسته ډاکټر سري ته مخ ور تاو کړ، په خوشحالۍ يې وويل:

- ملک صيب، مېرمن مو په ښه کېدو ده. شکر چې زموږ د همکار د ويني ګروپ ور سره سمون اوخوړ، کني اوس به ژوندۍ نه وه پاتې.

سړي ترخه موسکا وکړه، د مننې لپاره يې ورته لاسونه په سينه کېښودل:

- ښه شوه چې وه ژغورل شوه. او له تاسې هم ډېره مننه!

ماشوم سړي ته برګ برګ کتل.

وروسته سړي وټوخل، رنګ يې سور شو، له ځايه پاڅېد، د باندې ووت.

د ماشوم په مخ د اوښکو چاپونه وو، سپين غومبري يې د اوښکو له امله خيرن ښکاريدل.

ماشوم سلګۍ کولې.

ډاکټر ور وکتل:

- مه ژاړه زويه، مور دې ښه کيږي.

ماشوم پوزه کش کړه، له اوښکو ډکې سترګې يې له مور سره نيږدې ولاړ ډاکټر ته ونيولې، په ژړا کې يې وويل:

- ملک چا ته وايي؟

- هغه کس ته، چې د خلکو ستونزې حل کوي.

- نو زما پلار، زما د مور ستونزه ولې نه شي حل کولی؟، هره ورځ يې زما مور له ويښتو را نيولې وي او وهي يې.

ډاکټر حيران ورته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم د ژبې د بنديدو له امله د «پلوشې» نوم سم نه شو اخيستلی، په سختۍ يې وويل:

- که نن د پل، پلوسې دوی بابو نه وای خبره شوې، پلار به مې ادې مړه کړې وای.

ډاکټر په لاس کې نیولې پیچکارۍ د کټ په ژۍ (څوکه) کېښوده، وروسته ماشوم ته ور نيږدې شو، په مخ يې لاسونه ور تېر کړل، اوښکې يې ور پاکې کړې، ويې ويل:

- ملک صيب ولې خپله ښځه وهي؟

ماشوم زګيروی وکړ:

- وايي، بله ښځه کوم خو مور مې...

له دروازې سره ولاړ سړي په تېزه ستونی تازه کړ، ماشوم ژر ور وکتل، سړی (د ماشوم پلار) وو، ماشوم چوپ کېناست.

ډاکټر د ماشوم له څنګه ليرې ودرېد، سړي ته يې په ځير ځير وکتل. يوه شيبه يې سترګې پکې نيولې وې، وروسته يې له څنګه تېر او د باندې ووت.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادونه!**

**خپل نظرونه مو په لاندې ادرسونو را سره شریک کړئ.**

**فیسبوک: Wajid Mangal**

**واټساپ: +4368864664143**

**ایمیل: Wajidmangal2003@gmail.com**

ډېره مننه له افتخارالله افتخار څخه!

د کره کتنې په پار مې کیسه ور ولیږله، لومړی کس وو چې راته یې وویل؛ کیسه دې ډېره ښه لیکلې.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**